ژباړونکی: یوسف هېواد دوست

۲۰۲۱/۱۱/۲۵

# کله چې لمر نوی درس واخیست

## (لنډه کیسه)

دوه بېوزلو کسانو چې د دواړو لړی جامې په تن وي، د ژمي له یخنی ځخه رېږدېدل. لومړي سړي له بل ځخه پوښتنه وکړه :

«ستا هم ساړه کيږي؟»

دويم سړي چې ژامي يې له يخنی يوه په بلي لګېدلي، ورته وويل:

«هوکي!

له دې شان رېږدو خو ښه ده چې ومرم، که ځنګه ملګريه؟ ستا به هم ساړه کيږي؟»

لومړي بېوزلي سړي ورته وويل:

«هوکي! داسي احساسوم چې وينه مې کراړ ـ کراړ کنګل کيږي.»

هغه پرته له ځنډه خپل تول کالي وکښل او دا بل سړي ته يې ورکړل. وروسته يې ورته وويل:

«په تن يې کړه، په تن يې کړه.»

دويم سړي چې د دې دوست له پيرزوينو يې په زړه سختي راغله، تولي جامې يې بېرته هغه ته ورکړي او ويې ويل:



«نه، اړينه نده، زه ګورم چې ته هم زما په شان له يخنی رپيږی.»

لمر چې د وريځو له شا ځخه يې د دې دواړو خبرې - اترې اوريدې وويل:

«يخني بس ده. لکه دغه سړی زه هم بايد پيرزو ولرم.»

او په دې توګه لمر له مخکي څو ځلي زيات پر دوي تود وغوړېد.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ